ډاکتر عبدالرحمن زماني ۲۰۱۳/۰۵/۲۵

# په آزاد سرحد کې د مومندو مبارزې

(پنځمه برخه)

## دپښتنو قبایلو په سیمه کې داسلام په نامه جګړې

د اسلام دین په اتمې میلادي پیړۍ کې، پرته له سنده، د هند په نیمه وچه کې تر نورو ځایونو لومړي سرحدي سیمو ته ورپيژندل شویدئ. د دې سیمې اوسیدونکي د نورو پښتنو د ستر اکثریت په شان سُني مسلمانان او د حنفي مذهب پیروي کوي . له کومه ځایه چې پښتانه مهم شیان جدي ګڼي، نو ځکه دحیرانتیا وړ نده چې دوی ددین سرسپارلي، له ځانه تیر او احساساتي پیروان دي . له بله پلوه، په عامو چارو کې د ژورو غیر مذهبي رواجونو موجودیت، د لیک لوست د سطحې ټیټوالي، او د اسلامی اساسي جریاناتو نه په پیړیو دوې ګوښه والي، ددین په هکله دډیرو کسانو معلومات محدوده کړي او دخرافاتو ودې ته يې لاره اواره کړیده (۱).

د اسلام په نامه ننګ او دپښتنوقبایلو داحساساتو نه په استفادې سره دجهاد په نامه دخلکو رابلل په سیمه کې پخوانۍ سابقه لري. ددې وسلې نه لومړي د مغلو، بیا د سکهانو او وروسته هم د انګریزانو په وړاندې د خلکو د پاڅون دپاره استفادې شویدي، او دا سلسله دوام لري، لکه د روسانو دتیرې په وړاندې دافغانانو پاڅون اواوس، اوس د امریکایانو او ناټو د قواوو په وړاندې وسله والې مبارزې.

لکه دنورو اسلامي هیوادونو غوندې په افغانستان او د هغې په سرحدي سیموکې خلک روحانیونو ته داحترام او درنښت په سترګه ګوري، او دوی هم د مذهبي، ملي او استعماري ضد غورځنګونو په لوړي د خلکو په راغونډولو کې مهم رول لوبولي دئ(۲). دآزادو قبایلو د نورو سیمو په شان، په مومندو کې هم ګڼ شمیر ملایان اوسیدل چې دکلو دجوماتونو او دماشومانو د مذهبي زده کړو مسؤلیتونه ور په غاړه وو.

پر ملایانو سربیره ځیني ستانه لکه پیران، میاګان، آخندزادګان، صاحب زادګان، او په ځینو ځایونو کې فقیران او درویشان هم وو. خو د ملایانو په شان، په ټولنه کې ددوې درنښت، مقام او منزلت تر ډیرې اندازې پورې ددوې په هکله د قبایلي اولس په نظر او عقیدې پورې مربوط وو . یاني تر څو چې به يې د ټینګ او ریښتیني مذهبي اخلاص او نیکچارۍ نښې نښاني او ثبوت خلکو ته څرګند شوي نه وو، تر هغې به يې په ټولنه کې کوم لوړ مقام او نفوذ تر لاسه کولاي نشو.

په افغانستان او د مومندو په ګډون آزاد سرحد کې دپردیو د یرغل په وړاندې د خلکو په وسله وال مقاومت او پاڅونونو کې ټولو قومونو او قشرونو، زړو او ځوانانو، ښځو او نارینوو برخه آخیستې ده، او پدې کې ځیني روحانیون او ملایان هم شامل وو . لکه چې تاریخي تجربو ښودلې ده، پښتانه په هغو غورځنګونو او پاڅونونو کې ډیر زر برخه اخلي، کوم چې د دین او مذهب په نامه پیل شوي وي، له همدې امله ددیني مشرانو لخوا جهاد ته بلنه، د خلکو دراټولولو یوه مؤثره او غوره وسیله ګڼل شوې(۳).

## د مغلو په مقابل کې د پیرروښان نهضت

دشپاړسمې میلادي پیړۍ په نیمايي کې د بایزید انصاري (پیر روښان) تر لارښوونې لاندې دا په بشپړه توګه پښتني نهضت، یو سیاسي، ادبي او مذهبي غورځنګ وو. دا غورځنګ په لومړي سر کې یوخالص مذهبي او اصلاحي غورځنګ وو چې وروسته يې سیاسي رنګ غوره کړ. د بایزید په لارښوونه په بشپړه توګه د هندي مغلو دامپراتورۍ(٤)دله منځه وړلو او د پښتنو د پخواني برم د بیا تر لاسه کولو په خاطر د روښانیانو داتحریک د پښتنو په



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

تاریخ او ادب کې د 'روښاني غورځنګ' په نامه نومول شوې دئ . دغه غورځنګ که له یوې خوا په افغانانو کې سیاسي شعور را ژوندی کړ، نو له بلې خوا یې دوی د هېواد د آزادولو لپاره د مغولو پر ضد مبارزې ته هم چمتو کړل.

د"پښتانه د تاریخ په رڼا کې" د کتاب د مؤلف په وینا "دشلمې صدۍ اکثر محققین او لیکوال [پیرروښان] په حقیقت کې یو لوی رهنما، مذهبي مبلغ، پوه سیاستدان او د خپلې زماني یو ښه ادیب ګڼي، او د پښتنو اکثر لیکوال یې د یو مذهبي رهنما نه علاوه یو لوی سیاسي قائد، ستر ادیب، د مغلو د استبداد او استعمار لوی مخالف او د پښتنو د آزادۍ لوی مرستیال او باني ګڼي...چونکه پښتون اولس په هغه تحریک کې چې د مذهب په نامه شروع شوې وي، ډېر زر حصه اخلي، نو د بایزید د تحریک مخالفت هم په مذهبي رنګ کې د مغل حکومت په سرپرستی کې په باقاعده ډول شروع شو. دغه شان پښتانه هم په دوو ډلو تقسیم شول . د بایزید په مرسته د عوامو طاقت وو، او د هغه د مخالفینو (اخند درویزه) په کمک د مغل حکومت اخلاقي حمایت او شاید چې مالي مدت هم وو. دغه وخت هرې ډلې د ژبې او قلم په ځای تورې ته اسره وکړه او د بایزید او د هغه د مخالفینو تر منځه د جنګونو یو[ه] سلسله شروع شوه(٥)"

## دسکهانو په مقابل کې د سید احمد بریلوي مذهبي خوځښت

دمغلي امپراتورۍ دختمیدو نه وروسته د جهاد دپاره یو بل خوځښت دسید احمد بریلوي تر مشرۍ لاندې پیل شو(٦). سید احمد بریلوي (١٧٨٦- ١٨٣١م) چې د هند په نیمه وچه کې دسید احمد شهید په نامه هم یادیږي، د هغه وسله وال اسلامي تحریک بنسټ ایښودونکې ؤ، چې د سکهانو په مقابل کې یې جهاد اعلان او د اسلامي حکومت دجوړولو دپاره یې د سرحد د پښتنو سیمه انتخاب کړه. سید احمدبریلوي د شاه ولي الله د ځوی شاه عبدالعزیز د افکارو د نفوذ لاندې وو. د رنجیت سنګهـ حکومت یې تهدید او د پېښور او مردان په سیمو کې یې د هغه لښکرو ته ماتې ورکړه. سید احمد بریلوي په پای کې په ١٨٣١م کال کې د مانسهرې د بالاکوټ په سیمه کې د سکهانو له خوا ماتې وخوړه او شهید شو.

د سید احمد بریلوي پیروانو ته دانګریزانو په اسنادو کې د هندوستاني متعصبینو او یا هندي وهابیانوپه نامه اشاری شویدي. سید احمد بریلوي په ١٨٢٠ کال کې حج ته تللی او کله چې په سعودي عربستان کې وو نو دوهابیانو تر نفوذ لاندې راغلی او هندوستان ته راستنیدو سره سم یې دسکهانو په وړاندې دجهاد تبلیغات پیل کړي او دپیروانو د راغونډولو نه وروسته سرحد ته تللی وو (ډېر ځیرونکي دا تحریک دولي اللهي تحریک عملي بڼه ګڼي. شاه ولي الله محدث ډهلوي (١٧٠٣- ١٧٦٢) په هند کې د مغلو د امپراتورۍ مشروعیت تر پوښتنې لاندې نیولی او د لومړي ځل دپاره یې د هند په نیمه وچه کې داسلامي خلافت نظریه طرحه کړې وه. تر هغه دمخه ددې تحریک لومړني مشر "شیخ احمد سرهندي فاروقی" د مجددیه نقشبندیه سلسلې بنسټ ایښودونکی ؤو چې د مجدّد الف ثاني په نامه هم یادیده او د افغانستان د مجددي کورنۍ مشر نیکه ؤو. شیخ احمد سرهندي دمغل پاچا اکبر حکومت د اصلي اسلام نه بې لارې ګڼه، او دهندوانو د مذهب دتاثیر نه پاک، یوه سوچه اسلام، غوښتونکی ؤو. که څه هم شاه ولي الله پخپله دهند په نیمه وچه کې دانګریزانو موجودیت ته اشاره نه کوي او توله توجه یې افراطي هندوانو ته اړولې وه، خو د هغه ځوی شاه عبدالعزیز ډهلوي او لمسي شاه اسمعیل، دغه اصلاحی غورځنګ د انګریزانو او استعمار په ضد یوه غورځنګ باندې بدل کړ. او د لومړي ځل دپاره یې دهند دپاره د "دارالحرب" د فقهي اصطلاح نه کار واخیست ).

د سید احمد بریلوي دجهاد په تحریک کې دوه ډوله مجاهدینو برخه درلوده. یوه یې د سرحدي سیمو د مجاهدینو ډله او بله یې هغه ډله وه چې د سیداحمد بریلوي تر مشرۍ لاندې جهاد کې د ګډون دپاره د هندوستان دنورو سیمولکه بنګال، بهار، مدراس او ډهلي څخه راغلي وو. د سید احمد بریلوي د ماتې او وژل کیدو نه وروسته د هغه ملګرې په غرونو کې خپاره شول او بیا وروسته یې دسوات په جنوبي سیمه "بونیر" کې یو وړوکې مرکز جوړ کړ، چې د سوات د معروفه آخندزاده عبدالغفور لخوا یې حمایت کیده .

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکې په ځیر و لولئ

## دانگريزانو په مقابل کې د جهاد اعلام او دروحانيونو رول

انگريزانو سره جګړې او جهاد ته دخلکو په رابللو کې لومړي د سوات آخندزاده صاحب عبدالغفور او بيا دهډې د ملا صاحب نجم الدين آخندزاده او د هغه خليفه ګانو او د طريقې پيروانو ستره برخه درلوده . او د سنزل نويد په وينا(۷)، قبايلي سياست چې نور د انګريزانو سره د مخالفو فعاليتونو سره يوځای او ګډشوې وو، دسرحد ددوارو غاړو پښتنو قبايلو په سيمه کې په يوه مسلطه طاقت بدل شو.

په مومندو کې هم د ترنګزو د حاجي صاحب، دبابړې د ملا صاحب، د اسلامپور ميرصاحب جان پاچا صاحب، چکنور ملا صاحب په شان ديني علماوو او ريحانيونودانگريزانو سره د سرحدي قبايلو په مناسباتو کې د راتلونکو څو لسيزو دپاره ستر او څرګند رول لوبولی او دين، جنګ او جهاد (غزا) يې سره کوشير کړيدي ( د سوات د آخند صاحب عبدالغفور، د هډې د ملا صاحب، د ترنګزو دحاجي صاحب، ميرصاحب جان پاچا صاحب، دبابړې دملا صاحب او نورو روحانيونو په هکله به زيات معلومات وروسته وړاندې شي).

له بله پلوه انگريزي استعمار هم د اسلامي هيوادو د تجاربو نه په استفادې او د ټولنې د جوړښت د مطالعې نه وروسته دې نتيجې ته رسيدلی ؤ چې پښتانه دوه انګيزې ښه تحريکولای شي:

مذهب (چې د روحانيونو او ملايانو په انحصار کې وو)،

شخصي انګيزې او مادې ګټې.

انگريزانو د همدې دوارو شيانو څخه د وسلې په ډول د پښتنو قبايلو د مقاومت د ماتولو او مخنيوي دپاره استفاده وکړه . يعني د مذهب د وسلې نه په استفادې سره يې د ملايانو او پيرانو په جامه کې خپل جاسوسان او ايجنټان دې سيمو ته واستول، او د مادي امتيازاتو، ځمکو او منصبونو په ورکولو سره يې دځينو ملکانو، اربابانو، خانانو او نوابانو نه استفاده وکړه(۸).

## دانگريزانو په مقابل کې د شيخ ا لهند تحريک

دنولسمې پيړۍ په اوږدو او دشلمې پيړۍ په لومړي سر کې دخارجي تيري کونکو په وړاندې د خلکو عمومي قهر او راپاريدل دوې يووالي ته مجبوره کړل . له بلې خوا دې راپاريدنو او وسله والو پاڅونونو په سيمه کې داورپکو ملايانو او صوفي طريقو د وسله والو پيرانو او شيخانو پيدا کيدو ته هم لاره اواره کړه.

دسنزل نويد په وينا د انگريزانو سره د افغانانو جګړو، په افغانستان کې د جګړو او اسلام نه ددفاع روحيې ته قوت ورکړ او په ترڅ کې يې دانګريزانو په مقابل کې د جهاد دمشرانو او تحريک کوونکو په توګه ددينې علماوو سياسي او ټولنيز نفوذ هم زيات کړ. هغه زياتوي چې په جهاد کې ددينې علماوو مشرې دقبايلې ډلو سره ددوې يووالې زيات کړ، او په نتيجه کې د پښتنو قبايلو په سيمو کې دمحلې ديني مشرانو په لارښوونه د مقاومت کوچنې ډلې منځ ته راغلې(۹).

پدې ترڅ کې په ۱۸۵۷م کال کې د هند د خپلواکې غوښتونکو د پاڅون دټکولو نه وروسته، چې انګريزي استعمارچيانو ورته د غدر (Mutiny) نوم ورکړې، دهند يو شمير مسلمانو مشرانو د شيخ الهند مولانا محمودالحسن(۱۰) په اشاره دهندوستان دننه او بهر خپلو آزادی غوښتونکو حرکتاتو ته ادامه ورکړه (۱۱)، او دسرحد دوارو خواوو په اوږدو کې يې دپښتنو قبايلو په سيمو کې د انګريزانو په مقابل کې دراپيدا شوی غورځنګ سره ملګرتيا وکړه.

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ



دانګريزانو سره دآزاد سرحد د

قبايلو ديوي جګړي انځور



دانګريزانو لخوا دمومندو دسيمي دمحاصرې دپاره

تاو شوي اغزن سيم  انځور

(نوربيا)

مَنابع


١.   Spain, James W. (1963). The Pathan borderland.  (دپښتنو سرحدي سيمه) ، ٨٥ مخ .

٢. سيستانی، نقش روحانيت متنفذ در ضديت با تجددگرايي رژيم امانی . افغان جرمن آنلاين، www.afghan-german.com ، ١٣ دسمبر ٢٠٠٨.

٣ . نويد، سنزل /ترجمه مجددي، نعيم (١٣٨٨). واکنش های مذهبي و تحولات  اجتماعی در افغانستان ١٩١٩-١٩٢٩ شاه امان الله وعلمای افغان ،  ٤١ مخ .

٤. مغل پاچاهانو چې د شپاړسمي پيړۍ له نيمايي څخه يي د اتلسمي پيړۍ تر پيله پورې د هند په لويي وچي حکومت کړې، خپله ځانونه ته ګورکاني Gurkani وائي. ګورکان د مغلي لغت کورګان Kurgan يا ځوم فارسي شوي بنه ده. دا لقب د کورنی مشر ته هغه وخت ورکړ شو چې د چنګيز خان د کورنی د يوې انجلی سره يي واده وکړ. د مغلي امپراتورۍ بنسټ ايښودونکي ظهيرالدين محمد بابر په اصل کې مغل نه بلکه د پلار له خوا د تيموري سلسلي د مشر تيمورشاه (ګوډ تيمور) کړوسي او د مور له خوا دبدنامه چنګيز خان کړوسي دئ.  تيموري شهزاده بابر چې د فرغاني (نني ازبکستان) پاچا ؤ، په هند حمله وکړه، او په ١٥٢٦ م کال کې يي دډيلي سلطنت وروستني پاچا ابراهيم لودي ته د ماتي ورکولو نه وروسته په هندوستان کې د مغلو د اسلامي امپراتورۍ بنسټ کينود. که څه هم د بابر ځوی همايون چې په ١٥٣٠م کال کې  د خپل پلار نه وروسته پاچا شو، په ١٥٤٠م کال کې د پښتون شيرشاه سوري لخوا سخته ماتي وخوړه او صفويانو ته يي پناه يوړه، خو پنځلس کاله وروسته د هغوي په مرسته بيرته قدرت ته ورسيد. دی سلسلي وروستي پاچا دوهم بهادر ظفرشاه ؤ، چې حکومت يي دډيلي ښار ته محدوده ؤو. ظفر شاه دانګريزانو لخوا بندي، تبعيد او ځامن او کورنی يي هم د ١٨٥٧ کال د پاڅون نه وروسته د انګريزانو له خوا ووژل شول .




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

۵. کاکا خیل، سید بهادر شاه ظفر (۱۹۶۵). پښتانه د تاریخ په رڼا کې، ۵۳۶ مخ .

٦ . نوید، سنزل /ترجمه مجددي، نعیم (۱۳۸۸)، ۲٦ مخ

۷ . جاوید، عزیز (۱۹۸۱) برصغیر کي تحریک آزادی کا ایک عظیم مجاهد: حاجی صاحب ترنگزئی ، ۲۳۹ مخ

۸. Nawid, S. K. (1999) Religious response to social change in Afghanistan, 1919-29: King Aman-Allah and the Afghan Ulama. (په افغانستان کې ټولنیزو بدلونونو په وړانګې مذهبي غبرګون).

۹ . "شیخ الهند مولانا محمودالحسن" (۱۸۵۱-۳۰ نومبر ۱۹۲۰) یو وتلی اسلامي عالم ؤچي په بریتانوي هند کې یې د انګریزی استعمار په وړاندې نه ستړي کیدونکي مبارزه کړیده. مولانا محمودالحسن د مولانا ذولفقار علي زوي او د دیوبند د مدرسې د لومړنیو شاګردانو څخه ؤ چې په ۱۸۷۳ کال کې د فراغت نه وروسته په همدې مدرسې کې د ښوونکي په توګه په کار پیل وکړ او بیا په ۱۸۹۰ م کال کې ددې مدرسې دسرښوونکي په توګه وټاکل شو. مولانا محمودالحسن د ښوونې په څنګ کې د نړۍ او بریتانوي هند د سیاسی چاپیریال سره مینه پیدا کړه. کله چې عثماني امپراتوري د انګریزانو په مقابل کې لومړۍ نړیواله جګړه کې شامله شوه، او مسلمانانو ته د سلطان یا خلیفه د سرنوشت په هکله اندیښنه پیدا او د خلافت تحریک (غورځنګ ) پیل شو، او ددې تحریک مشرانو مولانا محمد علي او مولانا شوکت علي په بریتانوي هند کې د مظاهرو په تظیمولو پیل وکړ، نو مولانا محمودالحسن به شاګردان دې تحریک کې ګډون ته هڅول. مولانا محمودالحسن د بریتانوي استعمار په مقابل کې د هند دننه او دباندې د وسلوال پاڅون د تنظیمولو هلې ځلې پیل کړې او د خپلو رضاکارو شاګردانو د وسلوالې روزنې پروګرام یې پیل کړ. دده په وتلو شاګردانو کې چې پدې تحریک کې شامل ؤو، "مولانا عبیدالله سندي" او "مولانا محمد میا منصور انصاري" شامل وو، چې لومړنی کابل او دویم یې صوبه سرحد ته واستول شول. خپله مولانا دترکانو د مرستی د ترلاسه کولو دپاره "حجاز" ته سفر وکړ او غوښتل یې چې د بغداد او بلوچستان له لارې هند ته راستون او پاڅون پیل کړي. خود دغه پلان نه چې "دورېښمین دستمال" د مشهورې توطئې په نامه یادیږي ،انګریزان خبر او په "مکه " کې یې هغه بندي او په "مالتا" کې یې تر دري کلونو پورې بندي وساته .

۱۰. حبیبی، عبدالحی (۱۳۷۲). جنبش مشروطیت در افغانستان . چاپ کمیسیون فرهنگی حزب وحدت، قم، ایران ، ۱۲۰-۱۲۱ مخونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ